مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۴ / ۰۹ / ۲۴

# د خیبر جرګه ـ ۲

پښتانه چې په خيبر سره جرګه شي
پنجابی به پېښوره څخه تښتي
پنجابي له ځانګړتياوو بله دا ده
چې په جنګ کې له ډګره څخه تښتي
د پنجاب په غلامۍ کې به څه خوند وي
ګلخانی[۱] چې خپل ټبره څخه تښتي
د حالاتو د بهير ژباړه دا ښئ
چې دښمن[۲] له لروبره څخه تښتي
چې شېدې د پښتني مور يې رودلي
په کوم مخ به له سنګره څخه تښتي
بده ورځ چې په چا راشي مرادزيه
باخبر له بېخبره څخه تښتي

**يادوونه:**

(۱) ګل خاني هغه پښتون ته وايي چې پنجابي ته، بل پښتون له پښو رانيسي.

(۲) دلته له دښمن څخه موخه امريکا ده.

د ۲۰۲۴ کال د سيپتمبر ۱۵ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ